رسول الله صلى الله عليه وسلم به خوښول چې په بوټانو (پېزار) پښو کولو، سر ګمنځولو، پاکوالي او خپلو ټولو چارو کې په ښي (غېږي يا اړخ) پېل وکړي

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايې چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به خوښول چې په بوټانو (پېزار) پښو کولو، سر ګمنځولو، پاکوالي او خپلو ټولو چارو کې په ښي (غېږي يا اړخ) پېل وکړي.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به خوښ او غوره ګڼل چې په عزتمندو چارو کې په ښي(غېږي يا اړخ) پېل وکړي لکه: په پېزار پښو کولو کې په ښ پښه پېل وکړي، د سر او ږيري په ګمځولو، صافولو او غوړولو کې له ښي اړخ څخه پېل وکړي او په اودس کې د لاسونو او پښو په وينځلو کې ښی غېږی په چپ غېږي مخکې کړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3018